سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۸/۰۸

# د افغان ـ انګلیس د دریم جنګ په نتیجه کی لوی افغانستان ولی جوړ نشو؟

دا هسی یوه پوښتنه ده چی د ډیورنډ د فرضی کرښی په دواړو خواو کی د ډیرو او بی شمیره پرتو افغانانو په ذهن کی ښکته پورته کیږی او سم ځواب ورته نشی میندلی. په دی لنډه لیکنه کی زیار ویستل شویدی چی په مختصره توګه د هیواد د تاریخ پوهانو او وتلو سیاسی څیرو هغه دلایل چی دی پوښتنی ته څه ناڅه ځواب کیدلی شی، سره را ټول او تاسو ته در وړاندی شی .

اعلیحضرت غازی امان الله خان د خپل پلار له مړینی وروسته د ۱۹۱۹ م کال د فبروری په ۲۳ نیټه په کابل کی خپله پاچاهی اعلان کړه. د همدی ورځی په را سبا یعنی د فبروری په ۲۴ نیټه یی د کابل د مراد خانی په میدان کی د خلکو یوی لوی ټولنی ته په وینا کی و ویل چی افغانستان ستاسو ملک دی او له همدی نن ورځی نه ستاسو ملک په ټولو داخلی او خارجی چارو کی آزاد دی او زه به دا پوځی لباس تر هغی له ځان نه لری نکړم چی ترڅو تاسو ته مکمله ازادی په لاس را نه وړم. هغه د فبروری په ۲۸ نیټه د کابل د عیدګاه په جامع جومات کی د پاچاهی تاج د په سرکولو په مراسمو کی چی د هیواد د ستر روحانی شخصیت د شوربازار د حضرت صاحب فضل محمد مجددی ملقب په شمس المشایخ په خطبی ویلو سره تر سره شول، یو ځل بیا خپلی ژمنی، د هیواد د مطلقی آزادی ګټل،د هرډول اجباری کار او غلامی لغوه کول، د اجتماعی عدالت تامین او په ټولو د قوانینو یو ډول تطبیق او نورو څخه عبارت وی په کلکه سره تکرار کړلی، او د بریطانیی سفیر ته یی و ویل « ما چې څه و ویل ته پوه شوی؟» سفیر و ویل هو پوه شوم.

اعلیحضرت غازی امان الله خان سمدستی د انګریز دولت ته یو لیک ولیږه او په هغه کی د بریطانیی د دولت سره ټول پخوانی معاهدات لغوه اعلان کړل او په مسالمت امیزه توګه یی د انګریز له دولت څخه و غوښتل چی بی له جګړی او د خبرو اترو له لاری د افغانستان مطلقه آزادی په رسمیت وپیژنی. خو د انګریز دولت د افغان پاچا لیک ته ځواب ور نه کړ او هغه یی جدی و نه ګڼه. امان الله خان په خپل دولتی تشکیل کی د خارجی اړیکو(خارجه وزارت) اداره پرانستله او د انګریز په شمول ډیرو نورو هیوادونو لکه اتحاد جماهیر شوروی، جاپان، ترکیه ، ایران، فرانسه ، د امریکا متحده ایالات او نورو سره د یوه مستقل هیواد په توګه سیاسی اړیکی ونیوی. له دی جملی څخه د وخت د شوروی دولت د یوی دولتی اعلامیی په صادرولو سره د ۱۹۱۹ م کال د مارچ د میاشتی په (۲۷) د افغانستان دولت د یوه مستقل دولت په توګه و پیژاند او د سیاسی اړیکو د ټینګولو د پاره یی خپله اماده ګی و ښوله.

امان الله خان ډیر انتظار و ویست چی د انګریز دولت به بی له جنګ څخه د افغانستان خپلواکی و منی، خو له بده مرغه د انګریز دولت د افغانستان د پاچا غوښتنو ته هیڅ ارزښت ورنکړ. د انګریز د دولت دی رویی امان الله خان دی ته اړویست چی د سختو شرایطو سره سره د انګریز په وړاندی د استقلال د حصول جګړه اعلان کاندی. امان الله خان په ډیری ارامی او سړه سینه د جنګ د پاره تیاری ونیو او د بریطانوی هند د سرحداتو په لور یی د سفر بری امر ورکړ.

د انګریزانو سره د استقلال جنګ د افغان ـ انګلیس د دوه نور پخوانیو جنګونو سره چی لمړی یی په ۱۸۳۸ م کی او دوهم یی په ۱۸۷۸م کی را منځ ته شوی وو، ځنی خاص توپیرونه درلودل لکه:

۱ ـ دا جنګ د پخوانیو جنګونو په څیر د انګریز د پراختیا غوښتنی( فارورد پالیسی) پا اساس د هغوی له لوری نه، بلکه د افغان ولس له لوری د خپلی خپلواکی د تر لاسه کولو په منظور په داسی حال کی چی د انګریز دولت د مذاکراتو له لاری د دی ملت آزادی و نه منله ، پیل شوی و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۲ ـ دا جنګ د هیواد په کومی خاصی سیمی پوری محدود نه و، بلکی دا د هیواد په شمال شرق کی د چترال نه بیا په جنوب غرب کی تر سیستانه پوری د زرو میلو نه په زیاته فاصله کی روان و.
اساسی پوښتنه داده چی جنګ لا په ځینو جبهو کی په شدت روان و چی د انګریز د غوښتنی سره سم اعلحضرت غازی امان الله خان د ځینو موثرو اشخاصو لکه صدر اعظم سردار عبالقدوس خان، سپه سالار محمد نادرخان او مشهور روحانی شخصیت فضل محمد مجددی مشهور په شیخ المشایخ او نورو د مخالفت سره سره جنګ ودراوه او د سیاسی حل لاره یی خوښه کړه ، هغه ولی دا کار وکړ او ولی د لوی افغانستان تر آزادی اخستلو پوری جنګ ته ادامه ور نکړه؟
دی پوښتنی ته د هیواد مورخینو او د وخت د سیاسی چارو تحلیلوونکو داسی ځواب ویلی دی:

الف: د افغانستان د نظامی قواو کمزورتیا، او د انګریز د نظامی قواو پیاوړ تیا. د مثال په توګه: د افغانستان تقریباً په او جبهو او څلورو لویو محازونو کی د کاغذ په مخ تقریباً (۵۵۰۰۰) تنه جنګیالی تخمین شویدی چی (۳۸۰۰۰) یی پیاده ټوپکوال،(۸۰۰۰) یی سواره، (۴۰۰۰) غیرمسلکی توپچیان چی د (۲۸۰) میله زاړه توپونه یی لروده او ټوپکونه یی هم دهن پُر او بغل پُر زاړه ټوپک وو چی له کاره لویدلی و. ترانسپورتی وسایل یی خره او کچری وی او تقویه یی یواځی داوطلب قومی لښکر او سربازان وو. د قومی لښکرو د شمیر تخمین څکه ممکن نه و چی هره شیبه یی تغیر مونده کله به زیات او کله به کم شول.
که څه هم د لومړی جهانی جنګ د ختمیدو نه لا ډیره موده نه وه تیره شوی او لا هم د بریتانوی هند ډیرسرتیری د هند نه بیرون په وظایفو کی وو خو سره له دی هم د افغان ـ انګلیس په دی جنګ کی د انګریز (۷۵۰۰۰۰) عسکرو برخه درلوده چی د (۲۳) مجربو جنرالانو په ذریعه سوق و ادراره کیدل. دوی د خپلو جنګی وسایطو د انتقال د پاره غرنیو سیمو ته ( ۴۵۰۰۰۰) بار وړونکی حیوانات درلودل، په سونو زرونو نوی ټوپکونه، سلګونو میله درانه توپونه او ماشینداری یی لرلی او د لومړی وار د پاره په دی جګړه کی د هوای ځواک( جنګی طیارو) نه کار واخستل شو.
د مشرقی جبهی د فرقه مشر صالح محمدخان په مشری له دی کبله د خیبر به دره کی ماتی و خوړله چی د کابل له قوماندی مخکی یی دقومی قواو په مشوره په جګړه پیل وکه، د قندهار جبهه چی د صدراعظم سردار عبدالقدوس خان په مشری روانه وه بی له کوم پرمختګ پرته په دفاعی حالت کی پاتی شوه. یواځی د جنوبی په حوزه کی چی سپه سالار محمدنادرخان یی مشر و، څه معمولی پر مختګ شوی و. په حقیقت کی د همدی جبهی بری په انګریزی پوځ باندی د دی سبب جوړ شو چی د انګریز دولت خبرو اترو ته غاړه کیدی او د جګړی د توقف وړاندیز و کاندی.

ب ـ ویره موجوده وه چی د جنوبی جبهه چی د سیاسی خبرو د پیل کیدو سبب جوړه شویده، د وخت په تیریدو سره کمزوری نشی او تر لاسه شوی بری بیرته له لاسه و نه وځی.

ج ـ ویره موجوده وه چی انګریزان به د همیش به څیر ځنی سست او بی ارادی قومی او قبایلی مشران د پیسو په مقابل کی واخلی او خپل ځواکونه به د انګریزانو په ګټه د جګړی له صفوفو نه خارج کاندی او افغان جنګیالی به یواځی پریدی.

د ـ ویره موجوده وه چی د انګریز سره د جنګ دوام به افغان دولت مجبوراً د روس لوری ته ور وګرزوی او د افغانستان د بی طرفی سیاست ته به زیان ورسیږی، څکه امان الله خان غوښتل چی د روس او د انګریز د رقابت نه د بی طرفه سیاست په چلولو سره د خپل هیواد د آبادی د پاره ګټه پورته کړی.

هـ ـ د جنګ په دوام سره دا ویره هم موجوده وه چی قومی مشران او مذهبی روحانیون به له حده زیات نفوذ و مومی او هیواد به یو کرت بیا د امیر عبد الرحمان نه د مخه د ملوک الطوایفی حالت ته ورسوی.
همدا علتونه وو چی اعلحضرت غازی امان الله خان د جنګ د دوام په ځای د سیاسی خبرو وړاندیز و مانه او په دری مرحلو کی د داړو خواو تر منځ د سیاسی مذاکراتو په نتیجه کی د ۱۲۹۸ هـ ش کال د اسد د میاشتی ۲۸ ،چی د ۱۹۱۹ م کال د اګست د میاشی د ۱۸ نیټی سره سمه ده ، د موجود افغانستان مکمله آزادی تر د لاسه شوه چی اوس یی مونږ دادی سلمه کلیزه لماځو. تاسو ټول ته دی دا ورځ مبارک وی.
غازی امان الله خان د موجود افغانستان د آزادی نه وروسته خپلو سرحدی ورونو ته یو پیغام په دی توګه ولیږه.«زما زړورو او باشهامته سرحدی ورونو! ستاسو هغه زړه وره مبارزه چی د خپل وطن او د دین د دښمنانو په وړاندی مو سرته رسولی لا می هم په زړه کی ژوندی ده او هغه میرانه چی تاسو د خپل وطن د آزادی د پاره کړیده او خپل ملک مو د خپل سر په بیه و ساته تل به د تاریخ په حافظه کی ژوندی وی. زما او د مقابل جانب اصلی منازعه د سرحدی مسایلو د حل د پاره وه. مونږ د ډیرو خبرو نه وروسته د دری کالو د پاره موقتی سوله وکړه. ما په روښانه توګه مقابل لوری (انګریز) ته دا خبره کړیده چی د سرحدی سیمی اوسیدونکی زما د وینی خپلوان دی او په هیڅ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

وجهه هغوی باید له مانه بیل نشی. د اوس د پاره همدومره که هغوی د مقابل لوری د چلند نه رضایت و نه لری زمونږ تر منځ صلح د تصور وړ هم نه ده» اعلیحضرت امان الله خان.

امان الله خان د خپل اقتدار په ټوله دوره کی د قبایلو د مشرانو او د هندوستان د ملی مبارزینو سره کلکی اړیکی لرلی او هغه په دی کلک باوری و چی د آزادی دا مبارزه به کله هم توقف نشی او تر هغی به دوام و مومی تر څو چی لوی افغانستان په سیاسی جغرافیه کی ځان را ښکاره کاندی. به هغه وخت کی دا غوښتنه بی د یو بل جنګ له پیل څخه سرته نه رسیدله او ربنتیا خبره خو دادوه چی افغانستان د انګریز سره د بل جنګ په کولو سره دا هدف نه شو تر د لاسه کولی.

له بده مرغه چی غازی امان الله خان له ارمانونو ډک زړه د همدی مکار انګریز په دسیسو او توطیئو سره له همدی کبله چی دوی د خپلی امپراطوری سقوط د ده په وجود کی لیدلو نو له منځه یی یوړ او د بیا د پاره یی په نورو د سیسو سره قدرت ته د هغه د رسیدو د مخنیوی عوامل برابر کړل.

مرحوم غبار لیکی: « بعد ازانکه معاهده کابل بین افغانستان و انګلیس امضا شد و اوضاع به حالت عادی برګشت، مجدداً سیاست اصلی افغانستان و مردم آزادی خواه سرحدات آزاد با سیاست استعماری انګلیس بالای مسئله سرحدات آزاد در تصادم آمد و این مصادمه سالها طول کشید تا اینکه دولت امانیه در افغانستان و بعد ها سیادت دولت انګلیس در هندوستان پایان یافت، ولی قضیه سرحدات آزاد حل نشد و کشمکش تازه با وارث انګلیس(دولت پاکستان) اغاز یافت و هنوز دوام دارد و بدون تردید تا نفوذ خارجی درین منطقه معدوم نګردد، این نقاضت و مبارزه دوام خواهد کرد»

امان الله خان په ۱۹۲۳ م کال کی د شرقی سرحداتو نه لیدنه وکړه او په جلال آباد کی یی د سرحدی قبایلی مشرانو په ګډون یوه لویه جرګه جوړه کړه او سرحدی مسئله یی پکی مطرح کړله. قبایلو ته یی د مادی مرستو نه هم ډه ډه و نکړه، په سرحد کی ملی مبازو شدت و موند آن تر دی چی د افغانستان په ادرس د انګریز د دولت احتجاجونو هم زور واخست. په یوه جمله کی داسی ویلی شو چی امان الله تر ډیره حده د همدی سرحدی معضلی او د محکومو قبایلو د آزادولو قربانی شو. اروای ښاده.

دا وو هغه عوامل او علتونه چی د افغان ـ انګلیس په دریم جنګ کی د لوی افغانستان د نه جوړیدو سبب شول او ترننه پوری بیا هیڅ افغان دولت و نه توانیده چی د خپلو هغو پښتنو ورونو حقه حقوق په نړیواله سطحه تامین کړلی شی، چی د نړی د نورو قومونو په څیر یی دوی هم مستحق دی. نه یواځی دا چی د محکومو پښتنو حقه حقوق تامین نه شول بلکی د تیرو څلویښتو کلونو په اوږدو کی د پاکستان دولت د خپلو نړیوالو ملګرو لکه انګریز او امریکا په مرسته په ټول توان سره زیا و وویسته چی د افغان دولت دی ته مجبور کاندی چی د ډیورنډ توره، ظالمانه او استعماری کرښه ور باندی په رسمیت و پیژنی. د همدی مسئلی له کبله دی چی تر دا ننه پوری افغان ولس د اور په لمبو کی سوځی او حتی د مطلقی نابودی اخطارونه هم ورته ورکول کیږی.

و به ګورو او انتظار به کوو چی زمانه څه را مخی ته کوی.

پای

---

په دی لیکنه کی ټول اعداد او ارقام د محترم ډاکتر عبدالرحمان زمانی صاحب له تاریخی اثر چی نوم یی دی«باز نګری دورۀ امانی و توطئه های انګلیس» څخه اخستل شویدی. دا اثر له دی کبله ډیر معتبر تاریخی اثر دی چی ډیر تازه اسناد یکی د انګلستان،آلمان،روسیی او نورو هیوادونو له هغو محرمانه ارشیفونو څخه چی اوس له محرمیت نه وتلی دی، راټول شوی او لوستونکو ته د امانی دوری او د دی دوری د سقوط په هکله ډیر تازه او ریښتینی معلومات ورکوی. د ده د ډیر زیار درناوی باید وشی.
مننه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ